# یادِ الٰهي

## او د هغې طریقې

15-April-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکې

د سُنّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

په 15 اپریل، 2022ء د پاکستان په هفته وار اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د ذِکرُ اللہ عادت څنګه جوړ کړو؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

خوږو او مُحترمواسلامیورونړو! چې کله جُمات ته داخل شئ، نود اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څوپورې چې په جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کیدلو شرعاً اجازت نشته، البته که د مځکښې نه مو د اعتکاف نِیَّت کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شریف فضیلت

د خوږ آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا چې دا اووئیل: جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَّا هُوَ اَهْلُهٗ نو **70** فرښتې به د زرو ورځو پورې د هغه د پاره نیکئ لیکي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] …معجم اوسط، جلد:1، صفحه:82، حدیث:235۔

# د بیان اوریدلو نیتونه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ(یعنې) رښتینے نِیَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[1]

خوږو او مُحترمواسلامیوروڼړو!ښه نِیَّت افضل ترین عمل دے. راځئ! د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه اوکړو: نِیَّت اوکړئ چې ❁نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بیان اورم ❁ چې څومره کیدے شي د ډډې وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعنې ادب] په نِیَّت د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې کښینم❁د ضرورت په توګه به راغونډ کښینم او نورو ته به ځائ فراخه کووم ❁که څوک راته څه تکلیف را اُورَسَوي نو صبر به کووم ❁چا ته به د نیغ نیغ کتلو نه ځان بچ ساتم ❁د بیان نه پس به پخپله ورمخکښې کیږم او سلام به کووم ❁که قلم کاغذ درسره وي نو د اهمو نکاتو نوټ کولو نِیَّتهم اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عظمت لرونکے روژه دار څوک دے؟

حضرت بِن مُعاذ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل والِد صاحب نه روایت کوي: یو ځل یو نُوراني محفل جوړ وو، رَسُولِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف فرما وو، صحابهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم هم حاضر وو، یو صحابي رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمتِ اقدس کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: یَارَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! جهاد کوونکو کښې د

1…جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

ټولو نه زيات عظمت والا څوك دے؟ خوږ آقاصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّماوفرمائيل:اَكْثَرُهُمْ لِلّٰهِ ذِكْرًايعني څوك چې د الله پاك ذِكر ډير ډير كوي، هغه عظمت والا دے. صحابئ رسول دويمه پوښتنه اوكړه: يَارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په روژه نيوونكو كښې زيات عظمت والا څوك دے؟ (د مثال په طور سل كسان دي او سلو واړو روژه نيولې ده، په دې كښې زيات عظمت والا څوك دے؟)خوږ آقاصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّماوفرمائيل:اَكْثَرُهُمْ لِلّٰهِ ذِكْرًايعني څوك چې د الله پاك ذِكر ډير ډير كوي، هغه عظمت والا دے.

(اَللّٰهُ اَكْبَر!لوږه ټول برداشت كوي، تَنده ټول برداشت كوي، ټول د روژې په حالت كښې دي، د دې باوُجود كوم روژه نيوونكے چې د الله پاك ذِكر ډير ډير كوي، هغه عظمَت والا دے.)

حضرت سهل بِن مُعاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: هغه صحابي داسې پوښتنې كولې، مَثَلاً يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په لمُونځ كوونكو كښې زيات عظمت والا څوك دے؟ زكوٰة وركوونكو كښې زيات عظمت والا څوك دے؟ داسې ئې د يو يو عبادت په باره كښې پوښتنه كوله او خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه د ټولو پوښتنو يو جواب ارشاد فرمائيلو: اَكْثَرُهُمْ لِلّٰهِ ذِكْرًا، اَكْثَرُهُمْ لِلّٰهِ ذِكْرًايعنيڅوك چې د الله پاك ذِكر ډير ډير كوي، هغه عظمت والا دے، څوك چې د الله پاك ذِكر ډير ډير كوي، هغه عظمت والا دے.

د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يارِغار او يارِ مزار، عاشِقِ اكبر، حضرت ابُوبكر صِدّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُحاضر وو، هغوئي حضرت عُمر فاروقِ اعظمرَضِيَ اللهُ عَنْهُته مخاطَب شو او اوئې فرمائيل: اے عُمره! داسې خو ذِكرُ الله كوونكو ټولې نيكئ يوړلے....! خوږ آقاءاِمامُ

الانبياء صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَجَل آؤ! (يعني اے ابوبکر! خبره خو داسې ده، څوك چې د الله پاك ذِكر ډير ډير کوي، هغوئي ټول خيرونه راغونډوي).[1]

خوږواومحترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د روژې مياشت ده، د نيكو موسم دے، په دې مياشت کښې د نفلو ثواب د فرضو برابر او د فرضو ثواب اويا چنده زياتولے کيږي او مونږ حديثِ پاك هم واروېدلو چې په روژه نيوونکو کښې د ټولو نه زيات عظمت والا څوك دے؟ هغه څوکچې د الله پاك ذِكر ډير ډير کوي، غور اوکړئ! که مونږه هم روژه اونيسو او د دې سره سره د الله پاك ذِكر ډير ډير کوو نو په ډيرو زياتو نيكو ګټلو کښې به کامياب شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ډير ذِكر نه كولو بعضې اسباب

هائے افسوس! غفلت....! په زړه کښې درد نشته ✿د نيکو حرص د نشت برابر دے✿د آخرت د فِکرِ کمے دے ✿په فضولو څيزونو کښې د مشغولتيا عادت موجوږ شوے دے ✿د دُنيا محبت مو چې لکه په زړه کښې کور کړے دے ✿هر وخت بس صرف د دُنيا په سوچونو کښې مصروفه اوسو ✿د فضول خبرو اوريدلو او کولو مو داسې بد عادت جوړ شوے دے چې الله دِ پناه راکړي!✿غِيبَت ✿چُغلي✿دروغ وئيل او معلومه نه ده چې څنګه څنګه ګناهونه دا ژبه په مونږ کوي، بيا سوشل ميډيا د پاتې ګناهونو کردار ادا کړے دے، چې لږه د يواځېکښېناستلو موقع ميلاؤ شي نو فوراً موبائل راواخلو او فيس بُك، يو ټيوب وغيره وغيره کتلو کښې مصروف شو.

---

[1] ...معجم كبير، جلد:8، صفحه:481، حديث:16812۔

کاش! مونږه د نیکو حرص کوونکي جوړ شو. د روژې د برکت نه ډکه میاشت ده، ښه تولې روژې هم اونیسئ او عظمت والا روژه نیوونکو جوړیدلو د پاره د الله پاك ذِکر هم ښه ډیر ډیر اوکړئ.

## د ډیر ډیر ذِکر کولو قرآني حکم

الله پاك په قرآنِ کریم کښې ارشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿۴۱﴾ (پاره:22،سورۂ احزاب:41)

[مفهوم]ترجمۂ کنزالایمان: اے ایماندارو! الله پاك ډیر زیات یاد کړئ.

رَسُولِ اَکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د الله پاك ذِکر دومره ډیر اوکړئ چې خلق تاسو ته لیوني اووائي.[1]

## یو ډیر قیمتي نصیحت

یو ځل د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې یو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ حاضر شو او عرض ئې اوکړو: اِنَّ شَرَائِعَ الْاِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ یعني یَارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! بے شکه د اسلام احکام په ما باندې زیات شوي دي، یو داسې عمل اوښائې! چې زه ئې مضبوط اونیسم. د الله پاك آخري نبي، رَسُولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ یعني ستا ژبه دې همیشه د الله په ذِکر لَمده وي.[2]

---

1 ...مسند امام احمد، مسند ابي سعيد الخدري، جلد:5، صفحه:189، حديث:11971۔

2 ...ابن ماجه، كتاب الادب، باب فضل الذكر، صفحه:608، حديث:3793۔

مشهور مُفسّرِ قرآن، حکیمُ الاُمَّت حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه د دې حدیثِ پاك په شرح کښې فرمائي: غالبًا د پوښتنې کوونکې صحابي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ پوښتنه د نفلونو مُتَعَلِّق وه(چې یَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! نفل عبادتونه ډېر زیات دي، په هغې کښې یو عبادت اوښائې چې زه ئې مضبوط اونیسم)، په دې باندې خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا جواب ورکړو، مقصد دا دے چې هر وخت په ژبه د الله پاك یو ذِکر جاري وي. الله پاك دِ داسې ژوند را نصیب کړي.[1] اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د حضرت مُعاذ رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د پاره آخري نصیحت

صحابي رسول حضرت مُعاذ بِن جبل رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند کښې زما چې د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره کوم آخري ملاقات شوے وو، هغه وخت ما عرض اوکړو: یَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! کوم عمل د ټولو نه غوره او الله پاك ته زیات نِزدې کوونکے دے؟ خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اَنۡ تَمُوتَ وَلِسَانُکَ رَطۡبٌ مِّنۡ ذِکۡرِ اللّٰهِ یعني اے مُعاذه! تاته دې مرګ په داسې حال کښې راشي چې ستا ژبه د الله په ذِکر لَمده وي.[2]

حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: مقصد دا دے چې هر وخت په ژبه د الله پاك یو ذِکر جاري وي، معلومه نه دهچې مرګ کله راځي، چې کله هم ملَكُ

---

1 ...مرآۃ المناجیح، جلد:3، صفحه:321۔

2 ...شعب الایمان، جلد:1، صفحه:393، حدیث:516۔

المَوت عَلَيْهِ السَّلام ستا روح اخستو له راشي چې تا غافله اُو نه مومي، الله پاك دِ داسې ژوند را نصيب کړي.[1]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د ذِکرُ الله مختلف صورتونه

اے عاشِقانِ رسول! د ذِكرُ الله ډېر صورتونه دي مَثَلاً ❀د قُرآنِ کريم تلاوت هم ذِکر دے ❀د الله پاك [اَسمائے حُسنٰى يعني] خواږه خواږه نومونه په ژبه ادا كول ❀اَللّٰهاَللّٰه وئيل ❀د يَا رَحْمٰنُ، يَارَحْمٰنُ تسبيح كول ❀يا غفّار، يا غفّارُ، يا سَمِيْعُ، يا سَمِيْعُ وئيل، دا ټول د الله پاك ذِكر دے ❀داسې د الله پاك په نعمتونو كښې غور او فِكر كول هم ذِكر دے ❀الله پاك دُنيا پيدا كړه ❀د دې دُنيا عجائبات [يعني حيرانوونكي څيزونه] ليدل ❀د دې په ذريعه د الله پاك شان او عظمت او د قدرت په باره كښې غور كول، دا د سترګو ذِكر دے ❀د الله پاك ذِكر اوريدل د غوږونو ذِكر دے ❀په زړه سره د الله پاك په ياد كښې مصروفه اوسيدل د زړه ذِكر دے ❀د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه لوستل، اوريدل هم ذِكر دے ❀د الله پاك د محبوب د بندګانو خبرې كول ❀د هغوئې ذِكرِ خير اوريدل ❀د هغوئې سيرت لوستل دا هم ذِكر دے ❀بلكه عُلمائے كرام خو فرمائي: د عبرت د پاره د الله پاک د دُښمنانو احوال لوستل اوريدل هم په ذِكر كښې شامِل دي. **حكيمُ الأُمَّت** حضرت مفتى احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ذِكرُ الله بالواسطه هم وي او بلاواسطه هم وي، د الله پاك ذات او صفات بيانول يا د هغې سوچ كول بلاواسطه د الله پاك ذِكر دے، د هغه د محبوبانو محبت خورول، د هغه د دُښمنانو بدي بيانول، ټول بالواسطه د الله پاك ذِكر دے، اوګورئ! ټول

[1] ...مرآۃ المناجیح، جلد:3، صفحه:321۔

قرآن د الله پاك ذِکر دے خو په دې کښې خو چرته د الله پاك د ذات او صفاتو بیان دے، چرته د حُضُورِ اَنوَر صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوصاف دي، چرته د کافرانو واقعات دي. او د قرآنِ کریم تلاوت غوره ذِکر دے، معلومه شوه: دا ټولې خبرې په ذِکر کښې شاملې دي.

## ذِکر څه ته وائي؟

خوږواومحترمو اسلامي وروڼړو! دا ټول د ذِکر مختلف صورتونه دي خو په حقیقت کښې ذِکر د غفلت اوچتولو نوم دے یعني د زړه نه د غفلت د پردې لرې کولو چې کوم کیفِیَّت دے، هغې کیفِیَّت ته ذِکر وائي. د اِمام واسِطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه نه پوښتنه اوکړے شوه: ذِکر څه ته وائي؟ اوئې فرمائیل: اَلْخُرُوجُ مِنْ مَّیْدَانِ الْغَفْلَةِیعني د غفلت د میدان نه د وَتلو نوم ذِکر دے.[1] د مثال په طور یو سړے د ګناه په کار کښې مصروف دے (مَثَلاً فلمونه ډرامے ګوري)، ناڅاپه د هغه په زړه کښې خیال راغے چې زر ده چې زه به هم مرم، د خپل کریم مالِك، رَبُّ الْعٰلَمِیْن په بارګاه کښې به هم حاضریږم، په دې خیال سره هغه ګناه پریږدي. دا د غفلت د میدان نه وَتَل دي، دې حالت او کیفِیَّت ته ذِکر وئیلے کیږي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## پیشو رښتیا اووئیل

---

1 ...رساله قشیریه، صفحه:257۔

شيخ ابُو الحَسَن نُورِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاك نيك بنده او ولـئ كامل وو، د لرې لرې پورې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ولايت خور شوے وو، خلق به د بركت د پاره د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت كښې حاضريدل او فيض به ئې موندلو. يو ځل دوه دَرويشان د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ملاقات د پاره اووتل، په دوئي كښې يو درويش د ځناورو په ژبه پوهيدلو، كله چې دا دواړه درويشان د شيخ ابُوالحَسَن نُورِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ښار ته اورسيدل نو اوئې ليدل چې دوه پيشوګان په خپل مينځ كښې خبرې كوي. درويش د پيشوګانو خبرې واوريدلې او غمژن شو اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّاۤ اِلَيْهِ رَاجِعُوْنئې اوئيلو. دويم درويش ترې تپوس اوكړو نو اوئې وئيل: يو پيشو بل ته وئيل:شيخ ابُو الحَسَن رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نُورِي وفات شوے دے. دواړه ډير خفه شو، خير! د دومره لرې نه راغلي وو، سوچ ئې اوكړو چې اوس خو به ئې په جنازه كښې شركت كوو، بيا دا دواړه د شيخ ابُو الحَسَن نُورِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه كور ته اورسيدل. څه ګوري چې شيخ ابُو الحَسَن نُورِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پخپله د هغوئي هر كلي د پاره تشريف راوړو، دواړه ډير حيران شو چې دا څه مُعامَله ده؟ پيشوګانو خو د دوئي د وفات خبر وركړے وو، دا خو ژوندے دے. شيخ ابُو الحَسَن نُورِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې هغوئي حيران اوليدل نو تپوس ئې اوكړو: څه خبره ده؟ تاسو حيرانه ولے ئې؟ درويش د پيشوګانو د خبرو په باره كښې اووئيل. شيخ ابُو الحَسَن نُورِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: پيشوګانو رښتيا وئيلي دي. زه يو ساعت د الله پاك د ذِكر نه غافله شوے ووم، بس هغه وخت په زمكه او اسمان كښې اِعلان اوكړے شو چې ابُو الحَسَن نُورِي وفات شو، د پيريانو او انسانانو نه علاوه ټول مخلوق هغه آواز واوريدلو. بيا ئې اوفرمائيل: په ما

دغافله کیدلو کیفیت د یو ساعت د پاره وو، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! ما ته بیا د ذِکر نِعمَت رانصیب شو.[1]

اے عاشِقانِ رسول! دا ذِکر دے او دا غفلت دے.....!! ذِکر کوونکے په حقیقت کښې ژوندے دے او غافل داسې دے لکه مړے.

## په غافِله باندې شیطان مقرر کیږي

الله پاك په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَمَنۡ یَّعۡشُ عَنۡ ذِکۡرِ الرَّحۡمٰنِ نُقَیِّضۡ لَهٗ شَیۡطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِیۡنٌ ﴿۳۶﴾ (پاره:25،سورۂ زخرف:36)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُ العِرفان: او څوك چې د رحمٰن د ذِکر نه مخ واړوي نو مونږه په هغه باندې یو شیطان مقرر کوو نو هغه د هغه ملګرے وي.

د الله پاك آخري نبـي، رسُول هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د شیطان سونډ د انسان په زړه باندې دے، کله چې بنده د الله پاك ذِکر کوي نو هغه راغونډ شي، او که هغه د الله پاك د ذِکر نه غافله شي نو شیطان د هغه زړه خپله لقمه [یعني نمړئ] جوړوي.[2]

## په سرونو باندې ئې تور کارغان ناست وو

نقل دي یو مسلمان پیرے د حضرت اِمام ابُو القاسِم قُشَیري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه دوست وو، یوه ورځ دا دواړه په جمات کښې ناست وو او خلق هم ناست وو، مسلمان پیري

---

1 ...مقاصد السالکین، صفحه:187و188 بتغیر قلیل۔

2 ...مسند ابي یعلیٰ، جلد:3، صفحه:376، حدیث:4301۔

اووئیل: تاسو ته څه ښکاري؟ اِمام قُشَیري رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه اوفرمائیل: آؤ! دا خلق ناست دي، زه ئې وینم. پیري اوئیل: د دې نه علاوه نور څه درته ښکاري؟ اوئې فرمائیل: نه. اوس مسلمان پیري د هغوئي په سترګو لاس کیښودل، بیا ئې لرې کړل او اوئې وئیل: اوس اوګوره! اِمام ابُو القاسِم قشیري رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه خلقو طرف ته اوکتل نو څه ویني چې د خلقو په سرونو تور تور کارغان ناست دي، د دې کارغانو وینښته اوږده اوږده دي او دې وینښتو د چا مخ پټ کړے دے، د چا د سترګو پورې دي، د چا د تندي پورې دي. امام قشیري رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه چې دا عجیبه منظر اولیدلو نو په حیرانتیا سره ئې تپوس اوکړو: دا څه مُعامَله ده؟ د هغه دوست پیري دا آیت اولوستلو:

| | |
|---|---|
| وَمَنْ یَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَیِّضْ لَهٗ شَیْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِیْنٌ ﴿۳۶﴾ (پاره:25،سورۂزخرف:36) | [مفهوم] ترجمۂ کَنزُ العِرْفان: او څوك چې د رحمٰن د ذِکر نه مخ واړوي نو مونږه په هغه باندې یو شیطان مقرر کوو نو هغه د هغه ملګرے وي. |

او اوئې فرمائیل: دا هغه شیطانان دي کوم چې په دوئي مسلَّط شوي دي. په دوئي کښې چې څوک غافله وي شیطان د هغه په سر د کارغه په شکل کښیني، کله چې هغه ذِکر کوي نو شیطان لرې کیږي.[1]

الله پاك دې مونږ ته د غفلت نه خلاصے رانصیب کړي. کاش! مونږه هر وخت په ذِکر او فِکر کښې مصروفه اوسیدونکي جوړ شو.اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀ ❀ ❀ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1 ...سبع سنابل، صفحه:253۔

# د ذِکرُ الله فضائل

حضرت مُعاذ بِن جَبل رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: یوه ورځ مونږه درَسُـولُ الـلّٰـه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! سره په سفر وو، په دې وخت کښې بعضې په اس سواره صحابهٔ کرام عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوان مخکښې تیر شو، بعضې شاته پاتې شو، په دې باندې د الله پاك حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **یَا مُعَاذُ! اَیۡنَ السَّابِقُوۡنَ** اے مُعاذه! مخکښې تیریدونکي چرته دي؟ ما عرض اوکړو: یَـارَسُـولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! بعضې مخکښې تیر شو، بعضې شاته را روان دي. په دې باندې خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **یَا مُعَاذُ! اِنَّ السَّابِقِیۡنَ الَّذِیۡن یَسۡتَھۡتِرُوۡنَ بِذِکۡرِ اللّٰہِ** یعني اے مُعاذه! (په حقیقت کښې) مخکښې تیریدونکي خو هغه دي کوم چې د الله پاك د ذِکر ډیر شوق لري.[1]

# د عرش په نُور کښې انغښتے شوے ګَس

د معراج شریف په حدیثونو کښې دي، رَسُـولُ الـلّٰـه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د معراج په شپه ما د عرش په نُور کښې انغښتے شوے یو ګَس اولیدلو، ما پوښتنه اوکړه: **مَنۡ ھٰذَا ؟اَمَلَكٌ؟** دا څوك دے؟ آیا یوه فرښته ده؟ اووئیلے شو: نه. ما اووئیل: **اَ نَبِیٌّ** آیا یو نبـي دے؟ اووئیلے شو: نه. ما تپوس اوکړو: **مَنۡ ھُوَ؟** بیا دا څوك دے؟ جوب راکړے شو (د هغې خُلاصه ده) چې دا هغه ګَس دے د چا چې درے صفتونه دي: **(1)** د ده ژبه به همیشه په ذِکرُ الله **لَمۡدَہ** وه **(2)** د ده زړه به د جمات سره لګیدلے وو **(3)** او د ده په وجه د ده مور او پلار ته ردې بدې نه دي وئیلے شوي.[2]

---

[1] …جَامِعُ العُلُوۡم والحِکَم، صفحه:451۔

[2] …جَامِعُ العُلُوۡم والحِکَم، صفحه:453۔

سُبْحٰنَ اللّٰه!خوږواومحترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! د الله پاك ډير ډير ذِكر كول، په جمات كښې زړه لګول، د مور او پلار د بےعِزَّتئ صوب نه جوړيدل، دا درې واړه صِفتونه څومره اعلٰى او خوښ كړے شوي دي چې داسې صفتونو والا ګس ته الله پاك اوچت مقام عطا كړو او هغه د عرشِ اِلٰهي په نُور كښې انغښتے اوليدلے شو. الله پاك دې مونږ ته هم د دې دريو واړو صفتونو خپلولو توفيق را نصيب كړي.

## په جنَّت كښې د باغونو لګولو طريقه

حضرت ابو سُلَيمان دارانـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: په جنَّت كښې خالي زمكه ده. كله چې بنده د الله پاك ذِكر كوي نو فرښتې په دغه جنَّتـي زمكه كښې د هغه د پاره باغونه لګول شروع كړي، بنده چې ترڅو پورې ذِكر كوي، فرښتې باغونه لګوي، كله چې بنده ذِكر بند كړي نو فرښتې هم اودريږي.[1] [يعني نور باغ نه لګوي].

## الــلّٰـه د خپل ذاكِر ذِكر كوي

په دويمه سيپاره، سُوۡرَةُ الۡبَقَرَه، آيت: 152 كښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| فَاذۡكُرُوۡنِيۡۤ اَذۡكُرۡكُمۡ وَاشۡكُرُوۡا لِيۡ وَلَا تَكۡفُرُوۡنِ ﴿۱۵۲﴾ (پاره:2،سورهٔ بقره:152) | [مفهوم]ترجمهٔ كنزالايمان:تاسو ما ياد كړئ زه به تاسو ياد كړم او زما حق اومنئ او زما ناشُكري مه كوئ. |

په تفسير نعيمى كښې دي: د دې آيتِ كريمه خُلاصه دا ده چې ❁اے خلقو! زما ذِكر اوكړئ! د دې نتيجه به دا شي چې زه به په دُنيا كښې تاسو مشهور كړم ❁تاسو ما په

1 ...رساله قشيريه، صفحه:259۔

اِطاعت سره یاد کړئ! زه به تاسو په رحمت سره یاد کړم ❀تاسو ما په دُعا سره یاد کړئ! زه به تاسو په عطا سره یاد کړم❀تاسو ما په حمد او ثنا سره یاد کړئ! زه به تاسو په نعمت سره یاد کړم ❀تاسو ما په دُنیا کښې یاد کړئ! زه به تاسو په آخرت کښې یاد کړم ❀تاسو ما په آرام او راحت کښې یاد کړئ! زه به تاسو په مُصیبت کښې یاد کړم ❀تاسو ما په **مجاهَده** (یعني په نیکو کښې د کوشش کولو) سره یاد کړئ! زه به تاسو په هدایت سره یاد کړم❀اے خلقو! تاسو اووائې: **یَارَبِّیْ**! (اے زما ربه) زه به اووائیم: **عَبْدِیْ**(اے زما بنده)❀تاسو اووائې: زه ګنهګار یم، زه به اووائیم: زه غَفَّار (یعني ډیر بخښنه کوونکے) یم.[1] حدیثِ قُدسي دے، الله پاك ارشاد فرمائي: بنده زما ذِکر کوي، زه د هغه سره یم، که هغه په زړه کښې ما یاد کړي، زه هغه یواځې یادووم، که هغه په **مجمع** [یعني د خلقو په ګڼړه] کښې ما یاد کړي، زه هغه د هغې نه غوره **مجمع** (یعني د فرښتو په مخ) کښې یادووم.[2]

**اے عاشِقانِ رسول!** غور اوکړئ! ذِکرُ الله څومره عظیم عبادت دے چې څوك د الله پاك ذِکر کوي، الله پاك د خپل شان مطابق هغه یادوي. الله پاك دې مونږ ته په کثرت سره د الله پاك د ذِکر کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1 …تفسیر نعیمی، پارہ:2، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:152، جلد:2، صفحہ:72۔

2 …بخاری، کتاب التوحید، باب قول اللہ تعالیٰ ویحذرکم اللہ نفسہ، صفحہ:1787، حدیث:7405.

## د الـلّٰـه قُرب ورکوونکے عمل

اِمام قُشيري ليکي: زما اُستاذ صاحب فرمائيلي دي:لَا یَصِلُ اَحَدٌ اِلَی اللّٰهِ اِلَّا بِدَوَامِ الذِّکْرِ يعني بنده الله پاك ته صرف او صرف د الله پاك په ذِکر هميش والے اختيارولو سره رسيدے شي.[1]

## غلام بادشاه جوړوونکے عمل

مشهور صوفـي بُزُرګ حضرت مولانا روم فرمائي:

| | |
|---|---|
| گَرْ تُوْ خَوَاہِی زِیْسْتَنْ بَا آبْرُوْ | ذِکْرِ اُوْ کُنْ ذِکْرِ اُوْ کُنْ ذِکْرِ اُوْ |
| ہَرْ گَدَا رَا ذِکْرِ اُوْ سُلْطَاں کُنَدْ | ذِکْرِ اُو بَس زَیْوَرِ اِیْمَاں بَوَد |
| ہَرْ کِہْ دِیْوَانَہ بَوَدْ دَرْ ذِکْرِ حَقْ | زِیْرِ پَائِشْ عَرْشْ و کُرْسِی نُہ طَبَق |

مفهوم: که د عِزّت نه ډك ژوند تيرول غواړې نو د الله ذِکر اوکړه! د الله ذِکر اوکړه! د الله ذِکر اوکړه! د الله ذِکر سوالګيرے بادشاه جوړوي، خُلاصه دا ده چې د الله ذِکر د اِيمان کالے دے، خوك چې د الله په ذِکر کښې ليونے شي، عرش او کرسئ او ټول طبقات د هغه ماتحت شي.

## د ذِکرُ الـلّٰـه کثرت سُنَّتِ مصطفٰی دے

اُمُّ الْمُؤْمِنِیْن، حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهافرمائي: د مديني تاجدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هر وخت په ذِکرُ الله کښې مصروفه اوسيدلو.[2]

---

1 ...رساله قشيريه، صفحه:256۔

2 ...بخاری، کتابُ: الاذان، صفحه:221۔

د مكتبةُ المَدينه كتاب **سيرتِ مُصطفٰی** کښې دي: د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادتِ مبارَك وو چې❀کښيناستلو، پاڅيدلو❀تلو راتلو❀خوراك څښاك❀اوده کيدلو بيداريدلو❀اودس کولو❀نوؤ جامو اغوستلو❀په سورلۍ تشريف اېښودلو❀سورلۍ نه کوزيدلو❀په سفر تللو ❀د سفر نه بيرته راتللو ❀جمات ته تلو راتلو❀طوفان، باران، د تندر ګړه زار په وخت، غرض هر وخت به ئې د الله پاك ذِکر جاري ساتلو او مختلفې دُعاګانې به ئې په ژبه مبارَکه باندې جاري وې❀د خوشحالۍ او غم په وختونو کښې❀د سحر نه تر ماښامه پورې داسې يوه موقع نه ده پاتې شوې چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پکښې دُعا نه وي کړې❀صرف په ورځ کښې نه بلکه د شپې په توره تِیاره کښې به هم په دُعا او ذِکرِ اِلٰهي کښې مشغول اوسيدلو❀تر دې پورې چې د وِصال په وخت کښې هم د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژبه مبارکه باندې دُعا جاري وه.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه!اے عاشِقانِ رسول! ژبه د الله پاك په ذِکر لَمده ساتل، د فضولياتو نه بچ کيدل او د الله پاك په ذِکر کښې مصروف اوسيدل هم سُنَّت دي. الله پاك دې مونږ ته د باقـي سُنَّتونو سره سره په دې خوږ سُنَّت باندې هم د عمل کولو توفيق را کړې.

## ډير ډير د الله ذِکر کوونکو مختصر حکايات

اَلْحَمْدُ لِلّٰه!زمونږه بُزُرګانِ دين (يعني د الله پاك نيکانو بندګانو) به هم په کثرت سره د الله پاك ذِکر کولو، د مسلمانانو څلورم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن،حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان مبارك انداز وو چې کله به ئې

---

1 ...سيرتِ مصطفٰے صلى الله عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:598 بتغير قليل۔

د الله پاك ذِكر واوریدلو نو داسې به ړقیدل لکه څنګه چې د تیزې هوا سره وَنه ړقیږي او د الله په یاد کښې به د هغوئي اوښکې بهیدلې.[1] صحابۍ رسول حضرت ابُوهُرَیره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره یو تار وو په هغې کښې هغوئي زر غوټې لګولې وې، هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به تر هغه وخته پورې نه اوده کیدلو ترڅو پورې چې به ئې په هغه (تسبیح نما) تار باندې د الله ذِکر نه وو کړے. حضرت خالد بِن معدان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه به د تلاوتِ قرآن سره سره په تېوله ورځ کښې څلویښت زره پیرې تسبیحات لوستل. چې کله هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه وفات شو، هغوئي د غسل ورکولو د پاره په تخته سملولے شو نو هغه وخت هم د هغوئي ګوتو حرکت کولو (ګویا هغوئي په دغه وخت هم د ګوتو په بندونو باندې د الله پاك ذِکر کولو). حضرت عُمَیر بِن هانـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه نه تپوس اوکړے شو، ستاسو ژبه مبارکه د الله پاك د ذِکر نه اودریږي نه، تاسو هره ورځ څومره تسبیحات لولئ؟ اوئې فرمائیل: یو لاك[2] [څله].

حضرت ابُو عبدُ الرَّحمٰن سَلَمـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: یو وَلِـيُّ الله وو، هغه به په کثرت سره اَلـلّٰـه، اَلـلّٰـه وئیلو یو ځل د هغوئي په سر څه څیز راغوزار شو، د سر نه ئې وینه روانه شوه، سُبْحٰنَ اللّٰه!په زمکه چې [هغه وینه] پریوتله نو د هغې نه الـلّٰـه اولیکلے شو.[3]

الله پاك دې مونږ ته هم په کثرت سره د ذِکرُ الله کولو توفیق را نصیب کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ✿ ✿ ✿ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1 …جَامِعُ العُلُوْم والحِکَم، صفحه:455۔
2 …جَامِعُ العُلُوْم والحِکَم، صفحه:453،454۔
3 …رساله قشیریه، صفحه:260۔

# د ذِكرُ الله عادت څنګه جوړ کړو؟

يو ځل د الله پاك نبـي حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاك په بارګاه کښې عرض اوکړو: اے الله پاکه! زه ستا داسې عبادت کول غواړم چې په هغې کښې ډېر زيات مشقت او محنت وي. الله پاك ورته اوفرمائيل: اے موسٰی! په اوچت آواز زما ذِکر کوه. موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام خو د الله پاك نبـي دے، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام چې کله د الله پاك ذِکر اوکړو نو مشقت څه ميلاويدلو، هغوئي ته ئې ډېر خوند ورکړو، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام په دويمه ورځ ذِکر اوکړو نو د مخکښې نه ورته زيات خوند ميلاؤ شو، دغه شان هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام ذِکر کولو او خوند به زياتيدلو، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د الله کريم په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا الله پاکه! ما خو داسې عبادت غوښتلو چې په هغې کښې ډېر مشقت اوکړے شي، ستا په ذِکر کښې خو ډېر خوند دے. الله پاك اوفرمائيل: موسٰی! دا خو زما په تا باندې مهرباني ده چې تاته زما په ذِکر کښې خوند ميلاويږي، ګنې فرعون ته اوګوره! هغه خپل تاج او تخت، قُوَّت او بادشاهي ټول هر څه برباد کړل، په درياب کښې غرق کيدل ئې منظور کړه خو يو ځل ئې زما نوم په خپله ژبه را نوړو.[1]

خوږواومحترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چې د **ذِکرُ الله** فضائل ډېر زيات دي او د دې سره سره ذِکرُ الله د مشقت نه ډك عبادت هم دے، که مونږه د ذِکرُ الله عادت خپلول غواړو نو د دې د پاره به مونږ له ډېر څه پريښودل هم وي ❀د فضول خبرو نه به خپله ژبه منع کول وي ❀بد صحبت به پريښودل وي ❀کوم خلق چې نسوار، سګريټ، پان، ګټکا وغيره خوري، هغوئي له به د دې نه ځان خلاصول وي❀د سوشل ميډيا استعمال به صرف د ضرورت د حده پورې کول وي، داسې د ټولو فضولياتو

[1] ...سبع سنابل، صفحه:260۔

قرباني به ورکوئ، هله به مو ذِکرُ الله طرف ته تَـوَجُّه کيږي، نو بیا به داسې همیشه په ذِکر او فِکر کښې مشغول اوسیدل اوموموئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شیخِ طریقَت،اَمیرِ اهلسنّتدَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د نیکو بےمثاله جذبه لري، یو ځل هغوئي عمامه شریفه تړله، په دې دوران کښې د هغوئي شونډو حرکت کولو، په پوښتنه کولو ئې اوفرمائیل: زه اَلـلّٰـه، اَلـلّٰـه لولم، چې د عمامې تړلو سره ذِکرُ الله هم کیږي. شیخِ طریقَت،اَمیرِ اهلسنّتدَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ یو ځل په مدني مُذاکره کښې اوفرمائیل: پان د ذِکر اودُرود مخالف دے (یعني چې په خُله کښې پان وي نو ذِکر نه کیږي)، په دې وجه زه پان نه خورم.

سُبْحٰنَ الـلّٰـه!د الله پاك د نیکانو بندګانو عادتونه هم ډیر ښکلي دي.الله پاك دې مونږ ته هم توفیق راکړي، چې مونږه هم د فضولیاتو نه بچ شو، ژبه د فضول خبرو نه بچ کړو، که د پان وغیره عادت وي چې د هغې نه خلاصے اوموموو او هر وخت په ذِکرُ الله کښې د مصروف اوسیدلو عادت خپل کړو.

## د ذِکرُ الله د کثرت د پاره

عَلَّامه اِبنِ رجب حنبَلـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ورځې اکثره حِصَّه په ذِکرُ الله کښې د تیرولو ډیره ښکلې نُسخه ورکړې ده، راځئ! د هغې خُلاصه اورو:

✿په شپه ورځ کښې پینځه لمُونځونه فرض دي، یقیناً لمُونځ هم ذِکرُ الله دے، ځکه‌پینځه واړه لمُونځونه د اَوَّلو او آخرو سُنَّتونو او نفلونو سره ادا کړئ، د دې سره به زمونږه د یوې نیمې نه تر دوه ګنټې په ذِکرُ الله کښې تیرې شي ✿په دې پینځَـؤ لمُونځونو کښې درے لمُونځونه هغه دي چې د هغې په مینځ کښې دمه ډیره زیاته ده، د ماسخُوتن او سحر په مینځ کښې ډیر وخت دے، دغه شان د سحر او ماسپخین په

مینځ کښې ډیر وخت دے، څکه د ماسخُوتن او سحر په مینځ کښې د نفلونو کولو عادت جوړ کړئ، د شپې اوده کیدلو نه مخکښې هم څه نا څه نفلونه ادا کړئ او کاش! د تَهَجُّدُ عادت جوړ شي، دغه شان د سحر او ماسپخین په مینځ کښې د اشراق او څاښت نفلونه دي، دا نفلونه هم په پابندئ سره ادا کړئ، د دې سره سره یو بل کار اوکړئ، هغه دا چې د هر لمَانځه نه پس د څه نا څه د ذِکرُ الله عادت دې جوړ کړے شي، مَثَلاً د هر لمُونځ نه پس تسبیحِ فاطِمَه (یعني 33 ځله سُبۡحٰنَ الله، 33 ځله اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه اور 34 ځله اَللّٰهُ اَکۡبَر) اولولئ، سورۀ اِخۡلاص او آیَةُ اَلۡکُرسی اولولئ، د هر لمَانځه نه پس کم نه کم سل ځله د دُرُودِ پاك لوستلو عادت دې جوړ کړے شي. داسې به کم نه کم څلورمه حِصَّه په ذِکرُ الله کښې تیره شي ❀په شپه او ورځ کښې دوه وختونه ډیر اهم دي، یو د سحر نه پس وخت او بل د مازیګر نه پس وخت، الله پاك د دې وخت د ذِکر کولو خاص حکم کړے دے، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوۡعِ الشَّمۡسِ وَقَبۡلَ غُرُوۡبِهَا ۚ (پاره:16،سورۀ طٰه:130) | [مفهوم] ترجمۀ کَنۡزُالعِرۡفان: او د لمَر راختلو نه مخکښې او د لمَر پریوتلو نه مخکښې د خپل ربّ ثناء او پاکي بیان کړئ. |

څکه په دې دوو وختونو کښې دې خاص طور څه نه څه اَذکار او اورادمقرر کړے شي، مَثَلاً د تلاوتِ قرآن عادت دې جوړ کړے شي، که غواړئ نو د خپل پیر صاحب له طرفه عطا شوې شجره شریف او څه اوراد او وظائف دې اولوستے شي.❀دغه شان د ماښام او ماسخُوتن مینځنے وخت هم ډیر قیمتي دے، دغه وخت ذِکر کول، لمُونځ ادا کول مُستحب دي، څکه د ماښام نه پس د اَوَّابینو نفلونه ادا کړئ ❀دغه شان د شپې اودس اوکړئ او اوده شئ، بسترې ته د تلو نه مخکښې یا په بستره باندې لږ ساعت د الله پاك ذِکر اوکړئ، تسبیحِ فاطِمَه،سورۀ فاتِحَه، سورۀاِخۡلاص او آیَةُ اَلۡکُرسی اولولئ. په

حدیثِ پاك کښې دي: کوم بنده چې اودس اوکړي او په بستره سملي، د الله پاك ذِکر کوي، تردې پورې چې خوب ورله ورشي، په شپه کښې چې کله هم څه دُعا اوغواړي، الله پاك به د هغه دُعا قبوله کړي.❀بیا چې کله د خوب نه رابیدار شئ نو [د راپاخیدو] دُعا اولولئ ❀دغه شان په شپه او ورځ کښې کیدونکو مختلفو کارونو مَثَلاً کور ته د تلو راتلو، خوراك کولو، جامو اغوستلو وغیره دُعاګانې یادې کړئ، او هغه لولئ هم.

عَلَّامه اِبنِ رجب حنبَلــي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: کوم بنده چې دا عادتونه جوړ کړي، د هغه شمیره به په هٔغه خلقو کښې کیږي د چا ژبه چې په ذِکرُ الله لَمْده وي.[1]

## 12 دینـي کارونو کښې یو دینـي کار: نیك عملونه

اے عاشقانِ رسول! د نیکو حرص لرلو، ګناهونو نه د بچ کیدو او د ذِکرُ الله عادت جوړولو دپاره دعاشقانِ رَسُول دیني تحریك دعوتِ اسلامی دیني ماحول سره وابسته شئ، او د ذِیلي حلقے 12 دیني کارونو کښې د زړه په اخلاص برخه واخلئ. اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! د دین او دنیا بے شماره برکتونه به درنصیب شي. د ذیلي حلقے 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **نیك عملونه**هم دي.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه!د شیخِ طریقت، اَمِیرِ اهلسنّتدَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه خپلو مریدانو، طالبانو او عقیدت مندو او د ټولے دُنیا عاشقانِ رسول ته، اسلامي خوئیندو ته، د جامعةُ المَدینه او مدرسةُ المَدینه طالب علمانو او طالباتو ته، خصوصي تنانو(یعني کاڼرو، چاړاګانو او نابینا تنانو) ته، حج او عمره سعادت موندونکـي خوش قسمتو ته او تر دې پورې چې د جیل قیدیانو ته هم د خپلے اصلاح غوره نُسخه ورکړې ده او هغه د نیکو عملونو رساله ده. دا

[1]...جَامِعُ العُلُوْم والحِکَم ، صفحه:457تا460 ملتقطاً۔

وړه جیبي سائز رساله د **مکتبةُ المَدینه** نه قیمتاً واخلئ، هره ورځ ئې ګورئ او د دې مطابق ژوند تیر کړئ او هره ورځ د خپلو عملونو جاج اَخلئ.**اِنۡ شآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم**!د دې رسالے په برکت به د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو کولو ذِهن جوړ شي، د زړه پاك والے به درنصیب شي او کردار به مو ښکلے ښائسته صفا سُترا شي.راځئ! د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے اورو:

## مدنـي سپرلے

د کراچۍ د علاقے نیو کراچي د یو اسلامي ورور بیان دے: زمونږ د جمات امام صاحب څوک چې د دعوتِ اسلامي د ماحول سره تعلق لري، هغوئي په اِنفِرادي کوشش سره یوه ورځ زما مشر ورور ته د **نیکو عملونو** رساله په ډالئ کښې ورکړه، هغوئي [رساله] کور ته راوړه، اولوستله ئې نو حیران پاتې شو چې په دې وړه رساله کښې یو مسلمان ته د اسلامي ژوند تیرولو څومره زبردسته فارمولا ورکړے شوې ده. بس د نیکوعملونو رسالے د هغوئي په ژوند کښې انقلاب راوستلو، د دې په برکت سره اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه!هغوئي ته د لمُونځ جذبه نصیب شوه او د جُمعې لمُونځ ادا کولو له جمات ته حاضر شو او اوس پینځه وخته لمُونځ ګزاره جوړ شوے دے، مخ ئې هم په ګیره مبارکه ښائسته کړو او د نیکو عملونو رساله [کښې خانے] هم ډکوي.[1]

نوټ: د دعوتِ اسلامي په دیني ماحول کښې مدني انعاماتو ته اوس "نیك اعمال" وائي.

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!دبیان په آخره کښې د سُنَّتوفضیلت او یو څو سُنَّتونه او آدابو د بیانولو ثواب حاصلووم. یوه ورځ تاجدارِرِسالت، شَهَنۡشاهِ نُبُوَّتصَلَّی اللّٰہ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمدرې ځله اِرشاد اوفرمائیلو: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض اوکړے

1 ...جنت کے طلب گاروں کے لئے مدنی گلدستہ، صفحہ:14۔

شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائیل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي.[1]

| | |
|---|---|
| سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تُو پیکرِ سُنَّت مجھے اللہ بنا دے[2] |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنَّتو مطابق | پیکر کړې د سُنَّتو ما، زما خوږه مَولٰی |

## روژه نه ماتوونکي څیزونه

اے عاشقانِ رسول! په هیره څه خوړلو، څښلو، جماع کولو سره روژه نه ماتیږي، که هغه روژه فرض وي که نفل ❁ که د روژه یاده کیدلو باوجود هُم مچ یا دوړه حلق ته لاړه شي نو هم روژه نه ماتیږي ❁ که دوړه د وړو وي کومه چې د جرندې یا د وړو چنړولو نه الوځي یا د غلې دوړه وي یا هوا کښې دوړه وه یا د څناورو د پښو سره اوچته شوه ❁ دغه شان د بس یا د موټړ لوګے یا د ګاډي وغیره تیریدو سره چې کومه دوړه والوځي او هغه حلق ته لاړه شي که ده ته روژه یاده هم وي، روژه به نه ماتیږي ❁ که چرې اګرباتۍ لګیدلې وي او د هغې لوګے پوزې ته لاړو نو روژه نه ماتیږي-خو که لوبان یا اګرباتۍ لګیدلې وي او د روژې یادیدو باوجود ئې هغې ته خُله نزدې کړه او لوګے ئې په پوزه راښکلو نو روژه به ماته شي ❁ غُسل ئې اوکړو او د اوبو یخوالے ئې دننه محسوس کړو بیا هم روژه ماته نه شوه ❁ خُلې ته ئې اوبه واچولې او اوبه ئې ښې تُوک کړې صرف لږ لـمدوالے ئې خُله کښې پاتې شوې وو او د لاړو سره ئې هغه تیر کړو نو روژه ماته نه شوه ❁ دوائي ئې اوټکوله او په حلق کښې د هغې مزه محسوس شوه نو روژه ماته نه شوه ❁ که غوږ کښې اوبه لاړې بیا هم روژه ماته نه شوه

1...جامع بیانِ عِلم، بَابُ:عِلم کے فضائل، جلد: 1صفحه:201، حدیث:220۔

2...وسائل بخشش، صفحه:118۔

که پخپله ئې غوږ کښې اوبه واچولې نو بیا هم روژه ماته نه شوه، که چرې د غوږ پرده شلیدلې وې نو غوږ کښې قَصداً [یعني اِرادَتاً] د اوبو اچولو سره به دا ښکته لاړې شي او روژه به ماته شي ❁ که لاړې یا بلغم خُلې له راغله او بیا ئې هغه تیر کړه نو روژه ماته نه شوه ❁ که مچ حلق ته لاړو نو روژه ماته نه شوه او که د قَصداً [یعني اِرادَتاً] ئې تیره کړه نو ماته شوه [1]

د روژې د فضائلو او د روژې په باره کښې د تفصیلي حکمونو او مسئلو نه د ځان خبرولو د پاره د شیخِ طریقتِ امیرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه ښکلے کتاب فیضانِ رمضان اولولئ! الله پاک دِ مونږ له د عمل کولو توفیق راکړي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنئ شپه باندې)

---

[1] ... فیضانِ رمضان، صفحہ: 135-136۔

دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينهصَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبۡر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينهصَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبۡر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمۡ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينهصَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيۡ عِلۡمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلۡكِ اللّٰهِ

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه د بَعضو بُزرګانونه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾قُربِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرۡضٰی لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنورصَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمهغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّماوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَکَ یَوۡمَ الۡقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّتصَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

## ﴿1﴾د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینهصَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمفرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حدیث: ۱۷۳۰۵

2... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حدیث: ۴۴۱۵